(۳) د نوماندانو پلار، مور، نیکه، انا، اولاد، ورور، خور زوج او زوجه نشي کولای د ټاکنو د کارکوونکي په توګه په اړونده ټاکنیزه حوزه کې دنده ترسره کړي.

(۴) د کمېسیون د ولایتي دفتر رئیس له اړوند ولایت څخه نشي ټاکل کېدای.

## نه عدلي تعقیب

**پنځه ویشتمه ماده:**

د کمېسیون غړی د واکمنې محکمې له حکم پرته ګرفتار، توقیف او تر عدلي تعقیب لاندې نشي نیول کېدای. د مشهود جرم حالات له دې امر څخه مستثني دي.

## د کمېسیون بودجه

**شپږویشتمه ماده:**

کمېسیون خپله بودجه له حکومت سره په سلا (مشوره) ترتیبوي او د هغې په

شده نمی توانند.

(۲) کارکنان دایمی یا مؤقت انتخابات حین تصدی وظیفه نمی توانند، خود را کاندید نمایند.

(۳) پدر، مادر، پدرکلان، مادر کلان، اولاد، برادر، خواهر، زوج و زوجۀ کاندیدان، نمی توانند به حیث کارکن انتخابات در حوزۀ انتخاباتی مربوط ایفای وظیفه نمایند.

(۴) رئیس دفتر ولایتی کمیسیون از ولایت مربوط تعیین شده نمی تواند.

## عدم تعقیب عدلی

**مادۀ بیست وپنجم:**

عضو کمیسیون بدون حکم محکمۀ ذیصلاح گرفتار، توقیف و مورد تعقیب عدلی قرار گرفته نمی تواند. حالات جرم مشهود از این امر مستثنی است.

## بودجۀ کمیسیون

**مادۀ بیست وششم:**

کمیسیون بودجه خود را در مشوره با حکومت ترتیب و در مصرف

لګښت ( لګولو) کې خپلواک دی او د هغې رپوټ د قانون له حکمونو سره سم وړاندې کوي.

د رسنیو کمیټه

اووه ویشتمه ماده:

(۱) د ټاکنیزو مبارزو له منصفانه او نا پلوه ( بېطرفانه) رپوټ ورکونې او خپرولو څخه د څارنې اوله موخو (هدفونو ) پالیسیو او اړوند وکړنلارو سره د مغایرو رسنیزو سر غړونو ته د رسیدګۍ په منظور ، د رسنیو کمیټه له دریو غړو څخه جوړه چې لږ تر لږه د هغو یوتن ښځه وي، د نوماندانو له نوم ثبتونې څخه یوه میاشت د مخه، د کمېسیون په واسطه را منځته کېږي.

(۲) هغه شخص د رسنیو د کمیټې په غړیتوب منل کېږي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان د تابعیت لرل.

۲- د لوړو زده کړو لږ تر لږه د لیسانس او د رسنۍ د لږ تر لږه پنځو کلونو کاري تجربې لرل.

آن مستقل بوده و گزارش آن را مطابق به احکام قانون ارائه می نماید.

کمیته رسانه ها

مادۀ بیست و هفتم:

(۱) به منظور نظارت از گزارش دهی و نشر منصفانه و بیطرفانۀ مبارزات انتخاباتی و رسیدگی به تخلفات رسانه ای مغایر با اهداف، پالیسی ها و طرزالعمل های مربوط، کمیته رسانه ها متشکل از سه عضو که حد اقل یک تن آنان زن باشد، یک ماه قبل از آغاز ثبت نام کاندیدان، توسط کمیسیون ایجاد می گردد.

(۲) شخصی به عضویت کمیته رسانه ها پذیرفته می شود که دارای شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن تابعیت افغانستان.

۲- داشتن تحصیلات عالی حد اقل لیسانس و تجربۀ کاری رسانه ای حداقل پنج سال.

۳- د نېک شهرت لرل.

(۳)د شرایطو لرونکی نوماند کــولای شي د خپـــل غړیتــوب غوښــتنلیک، دارالانشاء ته وړاندې کړي.کمېسیون د هغو له منځه ددې مادې چې د (۱ او ۲) فقرو د حکم په رعایتولو سره غړي ټاکي.

(۴) رأیه ورکوونکی، نوماند، څارونکی ګوند یا د سیاسی ګوندونو ائــتلاف، ټولنې او نور اشخاص کولای شي لــه رسنېزې سرغړونې څخه د رسنیو کمېټې یا کمېسیون ته په لیکلې توګه شکایت وکړي.

(۵) د رسنیو کمیټه کــولای شـــي د رسنیزې سر غړونې د تثبیت په صورت کې له احوالو سره سم یو له لانــدې تصمیمونو څخه ونیسي:

۱- د سر غړونې سمونې (اصلاح) ته د اخطاریې او دستور صادرول.

۲- له احوالو سره سم له پنځــه زره څخه تر سلو زرو افغانیو پورې د نغدي جریمې وضع او ټاکل.

۳- د شکایتونو د کمېسیون له تأییـــد

۳- داشتن شهرت نیک.

(۳) کاندید واجد شرایط می توانـــد درخواست عضویت خــویش را بـــه دارالانشاء ارائه نماید. کمیســـیون از میان آنان با رعایت حکـــم منـــدرج فقره های ( ۱ و ۲) این ماده اعضاء را تعیین می نماید.

(۴) رأی دهنده، کاندید، ناظر،حزب یا ائتلاف احزاب سیاسی، جمعیت ها و سایر اشخاص می تواننـــد از تخلـــف رسانه ای به کمیته رســـانه هـــا یـــا کمیســـیون، طـــورکتبی شـــکایت نمایند.

(۵) کمیتهٔ رسانه ها میتواند در صورت تثبیت تخلف رسانه ای حسب احوال یکـــی از تصـــامیم ذیـــل را اتخـــاذ نماید:

۱- صدور اخطاریه و دستور به اصلاح تخلف.

۲- وضع و تعیین جریمه حسب احوال از مبلغ پنج هزار الی یک صد هـــزار افغانی .

۳- معرفی متخلف غرض تعقیب عدلی

وروسته واکمنو مراجعو تـه د عـدلي تعقيب په غرض د سر غړوونکي معرفی.

(٦) د دې مادې په (۵) فقره کې درج شووحالاتوکې د رسنيو د کمېټې تصميم وروستنی (نهايي) ده.

(۷) د رسنيو د کمېټې دندې اوواکونه د هغې لايحـې پـه واسـطه چـې د کمېسـيون لخـوا تصـويبېږي، تنظيمېږي.

(۸) د رسنيو کمېټه د اړوند چـارو د تنظيم په منظور، کړنلارې وضع کوي چې د کمېسيون له تأييـد وروسـته مرعي الاجراء دي.

(۹) د رسنيو کمېټه د ورسپارل شوو ټولو دندو له ترسره کولو وروسـته د وروستيو پايلو له اعلان څخه وروسته د زيات نه زيات (۴۵) ورځو مودې په ترڅ کې منحل او د هغې اړوند ټـولې چارې کمېسيون ته محول کېږي.

به مراجع ذيصـلاح بعـد از تائيـد کميسيون شکايات.

(٦) در حالات مندرج فقرهٔ ( ۵ ) اين ماده تصميم کميسيون رسانه ها نهايی می باشد.

(۷) وظايف و صلاحيت های کميتـهٔ رسانه ها توسط لايحهٔ کـه ازطـرف کميسيون تصويب می شـود، تنظـيم می گردد.

(۸) کميته رسا نه ها به منظور تنظـيم امور مربوط طرزالعمل هايی را وضـع می نمايد که بعد از تائيد کميسـيون مرعی الاجراء می باشند.

(۹) کميتـه رسـانه هـا بعـد از انجـام کليـه وظـايف محولـه حداکثر در خلال مدت (۴۵) روز بعد از اعلام نتايج نهايی منحل و تمام امور مربوط به آن به کميسـيون محـول می گردد.

## دریيم فصل
## د شکایتونو کمېسیون
### د شکایتونو د مرکزي کمېسیون رامنځته کېدل (جوړېدل)

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) له سر غړونې، تخلف او په ټاکنو پورې له اړوندو جرمونو څخه، را پیدا شوو اعتراضونو او شکایتونو ته د رسیدګی په منظور، له پنځو غړو څخه جوړ د ټاکنیزو شکایتونو مرکزي کمېسیون رامنځته کېږي.

(۲) د دې قانون په دوولسمه ماده کې د درج شوو شرایطو لرونکي اشخاص چې په حقوقي یا فقهي علومو کې د لوړو زده کړو لرونکي وي کولای شي، ځان د شکایتونو د کمېسیون غړیتوب ته نوماند او د خپلو سوانحو لنډیز د دې قانون د دیارلسمې مادې په (۱) فقره کې درج د غوراوي کمېټې ته تسلیم کړي.

## فصل سوم
## کمیسیون شکایات
### ایجاد کمیسیون مرکزی شکایات

**مادۀ بیست و هشتم:**

(۱) به منظور رسیدگی به اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی، تخلف وشناسایی جرایم مربوط به انتخابات، کمیسیون مرکزی شکایات انتخاباتی متشکل ازپنج عضو ایجاد می گردد.

(۲) اشخاص واجد شرایط مندرج مادۀ دوازدهم این قانون که دارای تحصیلات عالی در علوم حقوقی یا فقهی باشند، می توانند خود را به عضویت کمیسیون شکایات کاندید و خلص سوانح خویش را به کمیتۀ گزینش مندرج فقرۀ (۱) مادۀ سیزدهم این قانون تسلیم نمایند.

**د شکایتونو د مرکزي کمېسیون د غړیتوب د نوماندانو غوره کېدل**

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) د غوراوي کمیټه ددې قــانون د اته ویشتمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو اشخاصو له منځه پنځلس تنه د ډېرو لوړو قانوني معیارونو اود قومي اوجنسیتي جوړښــت پــه رعــایتولو سره،جمهور رئیس ته معرفي کوي.

(۲) جمهور رئیس ته پنځه تنه د قومي او جنسیتي جوړښت په پام کې نیولــو سره د شکایتونو د مرکزي کمېسیون د غړو په توګه په لاندې ترتیــب ســره ټاکي:

۱- درې غړي د پنځو کلونو مــودې لپاره.

۲- دوه غړي د دریو کلونو مــودې لپاره.

(۳) د شکایتونو د کمېسیون غــړي د وروستنیو دورو لپاره پدې ماده کې له درج شوو حکمونو سره سم د پنځــو کلونو مودې لپاره ټاکل کېږي.

**گــزینش کاندیــدان عضــویت کمیسیون مرکزی شکایات**

**مادۀ بیست و نهم:**

(۱) کمیتۀ گزینش از میا ن اشــخاص منــدرج فقــرۀ (۲) مــادۀ بیســت وهشتم ایــن قــانون، پــانزده تــن را با رعایــت عــالیترین معیارهــای قانونی و ترکیب قومی و جنســیتی، به رئیس جمهور معرفی می نماید.

(۲) رئیس جمهور از میان کاندیدان، پنج تن را بانظرداشت ترکیب قومی و جنسیتی، به حیث اعضای کمیســیون مرکزی شکایات به ترتیب ذیل تعیین می نماید:

۱- ســه عضــو بــرای مــدت پنج سال.

۲- دوعضــو بــرای مــدت سه سال.

(۳) اعضای کمیسیون شکایات برای دوره های بعدی طبق احکام مندرج این ماده برای مدت پــنج ســال تعیــین می گردند.

(۴) د شکایتونو د مرکزي کمېسیون رئیس، مرستیال او منشي د غړو لــه منځه خپله د دوي په واسطه د آزادې سري او مستقیمې رأيې لــه لارې لــه اړوندې کړنلارې سره سم غوره کېږي.

(۵) د دې قانون په پنځلسه، شپاړلسمه، اوولسمه، اتلسمه، څلېریشتمه او پنځه ویشتمه مادو کې درج شوي حکمونه، د شکایتونو د کمېسیون د رئیس او غړو په هکله هم د رعایت وړدي.

(٦) له ټاکنیزې سر غړونې او تخلف څخه را پیدا شوو اعتراضونو او شکایتونو ته په رسیدګۍ کې د زیات شفافیت د روښتوب د تأمین په منظور، حکومت کولای شي د ملګرو ملتونو له سازمان سره په تفاهم (پوهاوي) کې د ټاکنو د چارو له بین المللي متخصصینو څخه دوه تنه د رأيې له حق پرته د شکایتونو د مرکزي کمېسیون په غړیتوب وټاکي.

(۴) رئیس، معاون و منشی کمیسیون مرکزی شکایات از میان اعضاء توسط خود آنها به اساس رأی آزاد، سری و مستقیم طبق طرزالعمل مربوط انتخاب می شوند.

(۵) احکام مندرج مواد پانزدهم، شانزدهم، هفدهم، هجدهم، بیست وچهارم وبیست وپنجم این قانون در مورد رئیس و اعضای کمیسیون شکایات نیز قابل رعایت می باشد.

(٦) به منظورتأمین شفافیت بیشتردر رسیدگی به اعتراضات و شکایات ناشی از تخطی و تخلف انتخاباتی، حکومت می تواند، در تفاهم با سازمان ملل متحد دو تن از متخصصین بین المللی امور انتخابات را به عضویت کمیسیون مرکزی شکایات بدون حق رأی تعیین نماید.

## د شکایتونو د کمېسیون واکونه

**دېرشمه ماده:**

(۱) د شکایتونو مرکزي کمېسیون او ولایتي کمېسیونونه د لاندې واکونو لرونکی دی:

۱- د نوماندانو او رأیه ورکوونکو پر فهرست د اعتراض او د هغو نوماندانو چې د ټاکنو په بهیر کې مطرح کېږي، شرایطو او اوصافو ته د رسیدګۍ موارد.

۲- له ټاکنیزو سر غړونو څخه را پیدا شوو شکایتونو ته رسیدګي، پدې شرط چې شکایت ددې قانون له حکمونو سره سم، د هغه پر ټاکلي وخت ثبت شوی وي.

۳- هغه شخص یا ادارې تـه چې د سرغړونې مرتکب شویدي، د توصیې، اخطار او په اصلاحي اقدام د دستور صادرول.

۴- د دې قانون د حکمونو مطابق له احوالو سره سم د نغدي جریمو وضع کول.

۵- د ټاکنو د پایلو له تصدیق او اعلام

## صلاحیت های کمیسیون شکایات

**مادهٔ سی ام:**

(۱) کمیسیون مرکزی و کمیسیون های ولایتی شکایات دارای صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- رسیدگی بـه مـوارد اعتـراض برفهرست کاندیدان ورأی دهنـدگان وشرایط واوصـاف کاندیدانیکـه در جریان انتخابات مطرح می شوند.

۲- رسیدگی به شـکایات ناشـی از تخلفات انتخاباتی، مشروط بر اینکه، شکایت مطابق احکام این قـانون در زمـان معینـه آن ثبـت گردیـده باشد.

۳- صدورتوصیه، اخطار و دستور به اقدام اصلاحی به شـخص یـا ادارهٔ کـه مرتکـب تخلـف گردیـده است.

۴- وضـع جریمـه هــای نقـدی حسب احوال مطـابق احکـام ایـن قانون.

۵- صدور دستور درمورد شـمارش

د مخه د رأيي ورکونې په مشخصو مرکزونو کې د رأيو بيا شمارنې په هکله د دستور صادرول.

۶- د لازمو شرايطو نه لرونکو رأيې ورکونې د پاڼو بې اعتباره پېژندل.

(۲)د شکايتونو مرکزيي يا ولايتي کمېسيون په هغه صورت کې نوماند د نوماندانو له نهايي فهرست څخه حذفولاي شي چې د معتبرو سندونو له مخې ثابته شي چې د دې قانون له حکمونو سره سم، د نوماند کېدو د شرايطو لرونکی ندی.

## د شکايتونو ولايتي کمېسيونونه

يو دېرشمه ماده:

(۱) په ټاکنو پورې له اړوند سرغړونې، تخلف او جرمونو څخه را پيدا شوو اعتراضونو او شکايتونو ته د رسيدګۍ په منظور، د شکايتونو ولايتي کمېسيونونه، د نوماندانو د نوم له ثبتونې يوه مياشت د مخه را منځته کېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی کمېسيون له دريو غړو څخه جوړ

مجدد آراء در مراکز رأی دهی مشخص، قبل از اعلام نتايج انتخابات.

۶- بی اعتبار شناختن اوراق رأی دهی فاقد شرايط لازم.

(۲) کميسيون مرکزی يا ولايتی شکايات در صورتی کانديد را از فهرست نهايی کانديدان حذف کرده می تواند که به رويت اسناد معتبر ثابت گردد که مطابق احکام اين قانون واجد شرايط کانديد شدن نبوده است.

## کميسيون های ولايتی شکايات

مادۀ سی و يکم:

(۱) به منظور رسيدگی به اعتراضات و شکايات ناشی از تخطی، تخلف و جرايم مربوط به انتخابات، کميسيون های ولايتی شکايات، يک ماه قبل از ثبت نام کانديدان ايجاد می گردد.

(۲) کميسيون مندرج فقرۀ (۱) اين ماده متشکل از سه عضو بوده که دو

دی چې د هغه دوه غـړي، جنسـيتي ترکيب ته په پام سره (يوه ښځه او يو نارينه) د شکايتونو د مرکزي کمېسيون لخوا او يوغړی يې د افغانستان د بشر د حقوقو د خپلواک کمېسيون لخـوا د لاندې شرايطو په پام کې نيولو سره د شکايتونو د مرکزي کمېسـيون پـه وړانديز او د جمهور رئيس په منظوری، مقررېږي:

۱- د افغانستان د تابعيت لرل.

۲- په حقوقي يا فقهي علومو کې لږ تر لږه د لېسانس د لوړو زده کړو لرل.

۳- د اهليت، نېک شهرت او په دولتي يا نادولتي ادارو کې د لږ تر لږه پنځه کاله کاري تجربې لرل.

۴- د دېرش کلنې سن بشپړول.

۵- په بشري ضد او جنايت جرمونو نه محکوميت.

٦- د دندې دتصدی پر وخـت پـه سياسي ګوندونو کې نه غړيتوب.

(۳) د شکايتونو ولايتي کمېسـيونونه مکلف دي، له سر غړونې، تخلف څخه را پيدا شوي اعتراضونه او شکايتونه او

عضو آن با نظر داشت ترکيب جنسيتی (يک زن و يـک مـرد) از طـرف کميسيون مرکزی شکايات و يک عضو آن از طـرف کميسـيون مسـتقل حقوق بشر افغانستان با نظر داشـت شرايط ذيل به پيشـنهاد کميسـيون مرکـزی شـکايات و منظـوری رئـيس جمهـور، مقـرر می گردند:

۱- داشتن تابعيت افغانستان.

۲- داشتن تحصيلات عالی حد اقـل ليسانس درعلوم حقوقی يا فقهی.

۳- داشتن اهليت، شهرت نيـک و تجربۀ کاری حد اقل پـنج سـال در ادارات دولتی يا غير دولتی.

۴- تکميل سن سی سالگی.

۵- عدم محکوميت به جـرايم ضـد بشری و جنايت.

٦- عدم عضويت در احزاب سياسی حين تصدی وظيفه.

(۳) کميسيون های ولايتی شـکايات مکلف اند، اعتراضات و شکايات ناشی از تخطی، تخلف و شناسايی جـرايم

د اړوندې حوزې د ټاکنيزو جرمونــو پېژندل د دوو اونيو مودې په ترڅ کې تر رسيدګۍ لاندې ونيسي او له خپلو اجراآتو څخه د شــکايتونو مرکـــزي کمېسيون ته رپوټ وړاندې کړي.

(۴) د شکايتونو مرکـــزي کمېســـيون مکلف دی، له سر غړونې، تخلف څخه را پيدا شوو اعراضونو او شکايتونو ته د رسيدګۍ او د ټاکنيزو جرمونو د پېژندلو په اړه، د ټولنيزو رسنيو له لارې خلکو ته رپوټ وړاندې کړي.

(۵) د ولايتونو د شکايتونو کمېسيونونه د ټاکنو د نهايي پايلو له اعلان وروسته تريوې مياشتې پورې خپل کـــار پايتـــه رسوي او له انحلال وروسته د هغـــو واکونه، د شکايتونو مرکزي کمېسيون ته لېږدول کېږي.

## د شکايتونو د مرکزي کمېســـيون دارالانشاء

دوه دېرشمه ماده:

(۱) د شکايتونو مرکزي کمېســـيون د درالانشاء لرونکی دی چې په سر کې

انتخابـــاتی حـــوزه مربـــوط را در خلال مدت دو هفته مورد رســـيدگی قرار داده و ازاجراآت خـــويش بـــه کميسيون مرکزی شکايات گـــزارش ارائه نمايند.

(۴) کميسيون مرکزی شکايات مکلف است، در رابطه به رسيدگی اعتراضات و شکايات ناشی از تخطی، تخلـــف و شناسايی جرايم انتخاباتی از طريق رسانه های همگانی به مردم گزارش ارائـــه نمايد.

(۵) کميسيون های ولايتی شکايات بعد از اعلان نتايج نهايی انتخابات الی مدت يک ماه کار خويش را پايان داده و بعد از انحلال صلاحيت های آن هـــا بـــه کميسيون مرکزی شـــکايات منتقـــل می گردد.

## دارالانشای کميســـيون مرکـــزی شکايات

مادۀ سی و دوم:

(۱) کميسيون مرکزی شکايات دارای دارالانشاء می باشد کـــه در رأس آن

يې رئيس دی.

(۲) د دارالانشاء رئيس ددې قانون په دوولسمه ماده کې پر درج شوو شرايطو بر سېره، د بشري سر چينو، مالي چارو او په معلوماتي تکنالوژۍ کې د لږ تر لږه پنځه کاله کاري تجربې لرونکي وي.

(۳) د شکايتونو مرکزي کمېسيون د رأيو په اکثريت توافق سره د شرايطو لرونکو اشخاصو له منځه درې تنه د دارالانشاء د پست د رياست د نيولو لپاره جمهور رئيس ته معرفي کوي او جمهور رئيس د هغو له منځه يوتن د رئيس په توګه ټاکي.

(۴)دارالانشاء خپلې دندې له هغې کړنلارې سره سم چې د شکايتونو د مرکزي کمېسيون لخوا تصويبېږي، اجراء کوي او د شکايتونو د مرکزي کمېسيون په وړاندې مسئوله ده.

رئيس قرار دارد.

(۲) رئيس دارالانشاء علاوه بر شرايط مندرج مادۀ دوازدهم اين قانون دارای تجربۀ کاری حداقل پنج سال در امور منابع بشری، مديريت مالی و تکنالوژی معلوماتی باشد.

(۳) کميسيون مرکزی شکايات به توافق اکثريت آراء از ميان اشخاص واجد شرايط، سه تن را غرض احراز پست رياست دارالانشاء به رئيس جمهور معرفی و رئيس جمهور از ميان آنان يک تن را به حيث رئيس تعيين می نمايد.

(۴) دارالانشاء وظايف خود را مطابق طرزالعملی که از طرف کميسيون مرکزی شکايات تصويب می گردد، اجراء نموده و نزد کميسيون مرکزی شکايات مسئول می باشد.

## د دایمي او مؤقت کارکوونکو استخدام

**دري دېرشمه ماده:**

(۱) د شکایتونو د مرکزي کمېسیون دایمي کارکوونکي د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د قانون له حکمونو سره سم استخدامېږي.

(۲) د شکایتونو د کمېسیون مؤقت کار کوونکي د ښوونځیو د ښوونکو، د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو د استادانو او د دولتي ادارو د کار کوونکو له منځه له هغې کړنلارې سره سم، چې د شکایتونو د کمېسیون لخوا وضع کېږي، توظیف کېږي، د نوموړو اشخاصو د نه شتون په صورت کې، مؤقت کارکوونکي د شرایطو لرونکو نورو اشخاصو له منځه توظیف کېږي.

(۳) د شکایتونو کمېسیون، دایمي او مؤقت اړوند کارکوونکي ددې قانون یا نورو اړوندو قوانینو د حکمونو د نقض په صورت کې، له دندې څخه لرې کوي، یا د عدلي تعقیب په غرض یې

## استخدام کارکنان دایمی ومؤقت

**مادۀ سی وسوم:**

(۱) کارکنان دایمی کمیسیون مرکزی شکایات مطابق احکام قانون کارکنان خدمات ملکی، استخدام می گردند.

(۲) کارکنان مؤقت کمیسیون شکایات از میان معلمین مکاتب، استادان مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و کارکنان ادارات دولتی، مطابق طرزالعملی که از طرف کمیسیون شکایات وضع می گردد، توظیف می شوند.درصورت عدم موجودیت اشخاص مذکور،کارکنان مؤقت از میان سایر اشخاص واجد شرایط توظیف می شوند.

(۳) کمیسیون شکایات کارکنان دایمی و مؤقت مربوط را در صورت نقض احکام این قانون یا سایر قوانین مرتبط، از وظیفه سبکدوش نموده یا غرض تعقیب عدلی به مرجع ذیصلاح معرفی

واکمنې مرجع ته معرفي کوي.

د شکايتونو د مرکزي کمېسيون بودجه

څلوردېرشمه ماده:

د شکايتونو کمېسيون خپله بودجه لـه حکومت سره په سلاکې ترتيب او پـه لګښت کې يې خپلواک دی، رپوټ يې د قانون له حکمونو سره سم، وړاندې کوي.

## څلورم فصل

## ټاکنيزې حوزې

د ټاکنيزو حوزو ټاکل

پنځه دېرشمه ماده:

ټاکنيزې حوزې د جمهوري رياسـت، ولسي جرګې، ولايتي شورې، ولسوالۍ شورې، د کلي شورې، ښاروالان، او د ښاروالېو د مجلسونو د غړو د ټاکنو د دايرولو په منظور، په لاندې توګه ټاکل کېږي:

۱- د جمهوري رياست لپاره، ټـول هېواد يوه ټاکنيزه حوزه ده.

۲- د ټاکنيزوحوزو د ټـاکلو او پـه

می نماید.

بودجـۀ کميسـيون مرکـزی شکايات

مادۀ سی و چهارم:

کميسيون شکايات بودجه خود را در مشوره بـا حکومـت ترتيـب و در مصرف آن مستقل بوده، گزارش آنرا مطـابق بـه احکـام قـانون ارائـه می نمايد.

## فصل چهارم

## حوزه های انتخاباتی

تعيين حوزه های انتخاباتی

مادۀ سی و پنجم:

حوزه های انتخاباتی به منظور برگزاری انتخابات رياست جمهوری، ولسـی جرگه، شـورای ولايتـی، شـورای ولسوالی، شورای قريه، شاروال ها و اعضای مجالس شاروالی ها، قرار ذيل تعيين می گردد:

۱- برای انتخابات رياست جمهوری، تمام کشور يک حوزۀ انتخاباتی است .

۲- به منظور تعيـين حـوزه هـای

کوچینو حوزو د هغو د وېشــلو پــه منظور،کمېسیون ، د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو ټاکنیزې حوزې پداسې ډول ټاکې چې د اساسي قانون د (۸۳) مادې د (۴ او ٦ ) فقــرو حکمونــه رعایت شي.

۳- د ولسوالۍ د شورې د ټاکنو لپاره، ټوله ولسوالۍ یــوه ټــاکنیزه حــوزه ده.

۴- د کلي (قریې) د شورې د ټــاکنو لپاره، ټول کلی یوه ټاکنیزه حوزه ده.

۵- د ښاروال د ټاکنو لپاره، ټول ښار یوه ټاکنیزه حوزه ده.

٦- د ښاروليو د مجلسونو د ټــاکنو لپاره، هره ناحیه یوه ټاکنیزه حوزه ده. هغه ښارونه چې په ناحیو وېشل شوي نه وي، ټول ښار یــوه ټــاکنیزه حــوزه ده.

## د ټاکنیزو حوزو د حدودو ټاکل

**شپږدېرشمه ماده:**

د ټاکنیزو حوزو حــدود د ټــاکنو د دایرولو له ورځې څخه لږ تر لږه(۱۸۰)

انتخاباتی و تقسیم آنها به حوزه هــای کوچکتر، کمیسیون، حــوزه هــای انتخاباتی ولسی جرگه و شورا هــای ولایتی را طوری تعیین می نماید کــه احکام فقره های (۴و ٦) مادۀ (۸۳) قانون اساسی رعایت گردد.

۳- برای انتخابات شورای ولسوالی، تمام ولسوالی یک حــوزۀ انتخابــاتی است.

۴- برای انتخابات شورای قریه، تمام قریه یک حوزۀ انتخاباتی است.

۵- برای انتخابات شاروال، تمام شهر یک حوزۀ انتخاباتی است.

٦- بــــرای انتخابــــات مجــــالس شاروالی ها، هرناحیــه یــک حــوزۀ انتخاباتی است. شهرهایی که به نواحی تقسیم نگردیده باشد، تمام شهر یــک حوزۀ انتخاباتی است.

## تعیین حدود حوزه های انتخاباتی

**مادۀ سی و ششم:**

حدود حوزه های انتخابــاتی حــداقل (۱۸۰) روز قبــل از روزبرگــزاری

ورځې د مخه د مرکــزي احصــايې د اداري اونورو اړوندو ادارو په همکارۍ له کمېسیون سره په تفاهم کې د محلي ارګانونو دادارې پــه واســطه ټاکــل کېږي.

## پنځم فصل

## د رأیه ورکوونکو او نوماندانو شرایط

### د رأیې ورکوونکو شرایط

**اووه دېرشمه ماده:**

د هغه شخص نوم د رأیې ورکــوونکي په توګه ثبتېږي چې د لاندې شــرایطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تابعیت ولري.

۲- د ټاکنو په ورځ يې اتلس کلنی سن بشپړ کړی وي.

۳- د قانون یا محکمې په حکــم لــه مدني حقوقو څخه محروم شوی نه وي.

۴- د هغه نوم د رأیه ورکوونکو پــه فهرست کې درج شوی وي.

انتخابات توسط ادارهٔ ارگــان هــای محلی بــا همکــاری ادارهٔ مرکــزی احصائیه و ســایرادارات ذیــربط در تفــاهم بــا کمیســیون تعیــین می گردد.

## فصل پنجم

## شرایط رأی دهندگان و کاندیدان

### شرایط رأی دهندگان

**مادهٔ سی و هفتم:**

شخصی به حیث رأی دهنده ثبت نام می گردد که واجــد شــرایط ذیــل باشد:

۱- تابعیت افغانستان را داشته باشد.

۲- سن هجــده ســالگی را در روز انتخابات تکمیل نموده باشد.

۳- به حکم قانون یا محکمه از حقوق مدنی محروم نگردیده باشد.

۴- اسم وی در فهرست رأی دهندگان ثبت شده باشد.

## د جمهوري رياست د نوماند شرايط

### اته دېرشمه ماده:

(۱) هغه شخص جمهوري رياست تـــه نوماند کېدلای شي چــې د لانـــدې شرايطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تبعه، مســـلمان او د افغان والدينو څخه متولد (پيدا شوي) وي او د بل هېواد تابعيت و نلري.

۲- د نوماند کېدو په ورځ د هغه سن له څلوېښتو څخه لږ نه وي.

۳- د محکمې لخوا په بشري ضد او جنايت د جرمونو په ارتکاب او يا لـــه مدني حقوقو څخه په حرمان محکـــوم شوی نه وي.

۴- دوه دورې د جمهور رئيس يـــا د جمهور رئيس د مرستيال په توګه غوره شوی نه وي.

(۲) د جمهوري رياست د مرســـتيالی نوماندان هم ددې مادې په (۱) فقـــره کې د درج شوو شرايطو تابع دي.

## شرايط کانديد رياست جمهوری

### مادۀ سی و هشتم:

(۱) شخصی به رياســـت جمهـــوری کانديد شده می تواند که واجد شرايط ذيل باشد:

۱- تبعۀ افغانستان، مسلمان و متولد از والدين افغان بوده و تابعيت کشـــور ديگری را نداشته باشد.

۲- در روز کانديد شدن سن وی از چهل سال کمتر نباشد.

۳- از طرف محکمه به ارتکاب جرايم ضد بشری و جنايت و يا حرمـــان از حقـــوق مـــدنی محکـــوم نشـــده باشد.

۴- دو دوره به حيث رئيس جمهور يا معاون رئيس جمهور انتخاب نگرديده باشد.

(۲) کانديـــدان معاونيـــت رياســـت جمهوری نيز تابع شرايط مندرج فقرۀ (۱) اين ماده می باشند.

## د ملي شوري د نوماند شــرايط او اوصاف

**نهه دېرشمه ماده:**

هغه شخص د ملي شوري غړيتوب تــه نوماند يا ټاکل کېدای شي چې د رأيې ورکوونکي د شرايطو پــر بشــپړېدو برسېره، د لاندې اوصافو لرونکی هم وي:

۱- د افغانستان تبعه وي يا د نوماند يا ټاکل کېدو له نېټې څخه لږ تر لږه لس کاله د مخه يې د افغانستان د دولــت تابعيت تر لاسه کړی وي.

۲- د محکمې لخوا په ضد بشري او د جنايت په جرمونو يا له مدني حقوقــو څخه په حرمان محکوم شوی نه وي.

۳- د ولسي جرګې غړو د نوماند کېدو په ورځ پنځه ويشت کلنی ســن او د مشرانو جرګې غړو د نوماند يا ټاکــل کېدو پنځه دېرش کلنی سن بشپړ کړی وي.

## شرايط و اوصاف کانديد شورای ملی

**مادۀ سی و نهم:**

شخصی به عضويت شورای ملی کانديد يا تعيــين شــده مــی توانــد کــه علاوه برتکميل شرايط رأی دهنــده، واجــد اوصــاف ذيــل نيــز باشد:

۱- تبعۀ افغانستان بوده يا حد اقل ده سال قبل از تاريخ کانديد يــا تعيــين شدن، تابعيت دولــت افغانســتان را کسب کرده باشد.

۲- از طرف محکمه به ارتکاب جرايم ضد بشری و جنايت و يا حرمــان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد.

۳- اعضای ولسی جرگه سن بيست و پنج سالگی را در روز کانديد شدن و اعضای مشرانو جرگه سن سی و پنج سالگی را در روز کانديد يا تعيين شدن تکميل نموده باشند.

## د ولایتي شوري او ولسوالۍ د شوري د غړیتوب د نوماند شرایط

**څلوېښتمه ماده:**

هغه شخص د ولایتي شوري او ولسوالۍ شوري غړیتوب ته نوماند کېدای شي چې د رأیه ورکوونکي پر شرایطو برسېره د لاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- د نوماند کېدو په ورځ یې لږ تر لږه پنځه ویشت کلنی سن بشپړ کړی وي.

۲- لږ تر لږه دوولسم ټولګي د فراغت د سند لرونکی وي.

## د کلي شوري د غړیتوب د نوماند شرایط

**یو څلوېښتمه ماده:**

هغه شخص د کلي شوري غړیتوب ته نوماند کېدای شي چې د رأیه ورکوونکي پر شرایطو بر سېره دلاندې شرایطو لرونکی هم وي:

۱- د نوماند کېدو په ورځ یې لږ تر لږه پنځه ویشت کلنی سن بشپړ کړی

## شرایط کاندید عضویت شورای ولایتی و شورای ولسوالی

**مادهٔ چهلم:**

شخصی به عضویت شورای ولایتی یا شورای ولسوالی کاندید شده می تواند که علاوه بر شرایط رأی دهنده، دارای شرایط ذیل نیز باشد:

۱- حداقل سن بیست وپنج سالگی را در روز کاندید شدن تکمیل نموده باشد.

۲- حد اقل دارای سند فراغت صنف دوازدهم باشد.

## شرایط کاندید عضویت شورای قریه

**مادهٔ چهل و یکم:**

شخصی به عضویت شورای قریه کاندید شده می تواند که علاوه بر شرایط رأی دهنده، دارای شرایط ذیل نیز باشد:

۱- حداقل سن بیست و پنج سالگی را در روز کاندید شدن تکمیل نموده

وي.

۲- لږ تر لږه په لوستلو او ليکلو وپوهېږي.

## د ښاروال د نوماند شرايط

دوه څلوېښتمه ماده:

هغه شخص د ښاروال په توګه نوماند کيداى شي چې د رأيه ورکوونکي پر شرايطو بر سيره د لاندې شرايطو لرونکی هم وي:

۱- د ولايت د مرکز د ښاروالۍ نوماند لږ تر لږه له پنځه کاله کاري سابقې سره او د لېسانس د زده کړو او د نوروښاواليو نوماند له درې کلونو کاري سابقې سره د دوولسم ټولګي د فراغت د سند لرونکي وي.

(۲) د نوماند کېدو له ورځې څخه لږ تر لږه پنځه کاله د مخه په هغه ښار کې چې ځان نوماند کوي استوګنه ولري.

## د ښاروالۍ د مجلسونو د نوماند شرايط

دري څلوېښتمه ماده:

هغه شخص د ښاروالۍ د مجلس

باشد.

۲- حد اقل خواندن و نوشتن را بداند.

## شرايط کانديد شاروال

مادۀ چهل و دوم:

شخصی به حيث شاروال کانديد شده می تواند که علاوه بر شرايط رأی دهنده، دارای شرايط ذيل نيز باشد:

۱- کانديد شاروالی مرکز ولايت حداقل دارای تحصيلات ليسانس با پنج سال سابقۀ کاری وکانديد ساير شاروالی ها دارای سند فراغت صنف دوازدهم با سه سال تجربۀ کاری باشد.

۲- حد اقل پنج سال قبل از روز کانديد شدن در شهری که خود را کانديد می نمايد، سکونت داشته باشد.

## شرايط کانديد عضويت مجالس شاروالی

مادۀ چهل وسوم:

شخصی به عضويت مجلس شاروالی

غړيتوب ته نوماند کېدای شي چې د رأيه ورکوونکي پر شرايطو بر سېره د لاندې شرايطو لرونکی هم وي:

۱- د نوماند کېدو په ورځ يې لږ تر لږه پنځه ويشت کلنی سن بشپړ کړی وي.

۲- لږ تر لږه د دوولسم ټولګي د فراغت د سند لرونکی وي.

۳- د محکمې لخوا د بشري ضد او جنايت جرمونو په ارتکاب يا له مدني حقوقو څخه په حرمان محکوم شوی نه وي.

۴- د نوماند کېدو له ورځې څخه د مخه لږ تر لږه پنځه کاله په هغه ښار کې چې ځان نوماند کوي، استوګنه ولري.

## د نوماند کېدو لپاره محدوديت

### څلورڅلوېښتمه ماده:

(۱) لاندې اشخاص، له خپلو دندو څخه له استعفي د مخه، پدې قانون کې درج ټاکنيزو څوکيو ته نشي نوماند کېدای:

۱- د سترې محکمې رئيس او نور

کاندید شده می تواند که علاوه بر شرایط رأی دهنده، دارای شرایط ذیل نیز باشد:

۱- حد اقل سن بیست و پنج سالگی را در روز کاندید شدن تکمیل نموده باشد.

۲- حد اقل دارای سند فراغت از صنف دوازدهم باشد.

۳- از طرف محکمه به ارتکاب جرایم ضد بشری و جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد.

۴- حد اقل پنج سال قبل از روز کاندید شدن در شهری که خود را کاندید می نماید، سکونت داشته باشد.

## محدودیت برای کاندید شدن

### مادهٔ چهل وچهارم:

(۱) اشخاص آتی، قبل از استعفاء از وظایف شان، به کرسی های انتخابی مندرج این قانون کاندید شده نمی توانند:

۱- رئیس و اعضای ستره محکمه و

قاضيان.

۲- لوی څارنــوال، څارنوالان او د څارنوالۍ د اداري مسلکي غړي.

۳- وزيـــران، ســلاکار وزيـــران، د جمهوري رياست سلاکاران، معينان، د ادارو رئيسان او د هغوي مرستيالان، د خپلواکوکمېسيونونو رئيسان او غړي، واليـــان او د هغـــوی مرســـتيالان، ولسوالان، سفيران او په بهر کې مېشت د هېـــواد د سياســـي نماينـــدګيو کارکوونکي.

۴- د ملي دفاع، کورنيـــو چـــارو د وزارتونو، د ملي امنيت د لوی رياست او د نظامي تشکيلاتو لرونکـــو نـــورو وزارتونو او ادارو نظامي منسوبين.

۵- د ملکي خدمتونو کار کوونکي.

٦- د کمېسيون دايمـــي او مؤقـــت کارکوونکي.

۷- د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو استادان او د افغانستان د علومو اکادمۍ د علمي کادر غړي.

(۲) هغه اشخاص چې د ناقانونه (غيـــر قانوني) وسله والو ډلو فرماندهي (فرمان

سایر قضات.

۲- لوی څارنـــوال، څـــارنوالان و اعضای مسلکی ادارۀ څارنوالی.

۳- وزراء، وزرای مشاور، مشاورین ریاست جمهوری، معینـــان، رؤســـای ادارات ومعاونان آنها، رؤسا و اعضای کمیسیون های مستقل، والـــی هـــا و معـــــاونین آنهـــــا، ولســـــوالان، سفراء و کارکنان نماینـــدگی هـــای سیاســـــی کشـــــور مقـــــیم خارج.

۴- منسوبین نظامی وزارت های دفاع ملی و امور داخله، ریاست عمـــومی امنیت ملی و سایر وزارت ها و ادارات دارای تشکیلات نظامی.

۵- کارکنان خدمات ملکی.

٦- کارکنـــــان مؤقـــت و دایمـــی کمیسیون.

۷- استادان مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و اعضای کادر علمی اکـــادمی علوم افغانستان.

(۲) اشخاصی که فرماندهی گروه های مسلح غیرقانونی را در دست داشته یا

ورکونه) په لاس کې لري یا د هغو غړی وي، نشي کولای په ټاکنو کې د نوماند په توګه ګډون وکړي. د ناقانونه وسله والو ډلو فرماندهي یا د اشخاصو غړیتوب د شکایتونو د کمېسیون تر ریاست لاندې د ملي دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو، د ملي امنیت د لوي ریاست او د محلي ارګانونو د ادارې له استازو څخه د جوړ جلا کمېسیون په واسطه بررسي او پدې برخه کې لازم تصمیم نیول کېږي، پدې هکله هر ډول شکایت د شکایتونو په کمېسیون کې تر بررسي لاندې نیول کېږي او د شکایتونو د کمېسیون تصمیمونه نهایي دي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص په ټاکنو کې بریالي نشي، د قانون له حکمونو سره سم بیا مقررېدای شي. پدې صورت کې د استعفي عواقب د دې مادې د (۱) فقرې په (۵ او ۷) اجزاوو کې پر درج شوو ذواتو نه تطبیقېږي.

(۴) که چېرې د ټاکنیزو څوکیو یو له

عضو آن باشند، نمی توانند در انتخابات به حیث کاندید اشتراک نمایند. فرماندهی یا عضویت اشخاص در گروه های مسلح غیرقانونی توسط کمیسیون جداگانه ای متشکل از نمایندگان وزارت های دفاع ملی و امور داخله، ریاست عمومی امنیت ملی و ادارۀ ارگان های محلی تحت ریاست رئیس کمیسیون شکایات، مورد بررسی قرار گرفته و تصمیم لازم در زمینه اتخاذ می گردد. هر نوع شکایت در این مورد در کمیسیون شکایات مورد بررسی قرار می گیرد و تصامیم کمیسیون شکایات نهایی می باشد.

(۳) هرگاه اشخاص مندرج فقرۀ (۱) این ماده در انتخابات موفق نشوند، مطابق احکام قانون مجدداً مقرر شده می‌توانند. در این صورت عواقب استعفاء بالای ذوات مندرج اجزای (۵ و ۷) فقرۀ (۱) این ماده تطبیق نمی شود.

(۴) هرگاه یکی از اعضای کرسی های

غړو څخه و غواړي بلې ټاکنيزې څوکۍ ته ځان نوماند کړي، مکلف دی لـه موجودې څوکۍ څخه استعفي ورکړي، د ولايتي شوري او ولسوالۍ شـوري غړي چې د مشرانو جرګې غړيتوب ته او يا د مشرانو جرګې غړي چې ځـان ولايتي شوري او يا د ولسوالۍ شوري ته نوماند کوي، لـدې حکـم څخـه مستثني دي.

(۵) که چېرې د مشرانو جرګې يو له انتصابي غړو څخـه وغـواړي ځـان ټاکنيزې څوکۍ ته نوماند کړي، مکلف دی له موجودې څوکۍ څخه اسـتعفي ورکړي.

(٦) هېڅ شخص نشي کولای په عـين وخت کې له يوې ټاکنيزې حوزې څخه په زياتوکې يا له يوې ټاکنيزې څـوکۍ څخه زياتو ته ځان نوماند کړي.

انتخابی بخواهد به کرسی ديگر انتخابی خود را کانديد نمايد، مکلف اسـت ازکرسی موجود استعفاء دهد. اعضای شورای ولايتی و شورای ولسوالی که به عضويت مشرانو جرگه و يا اعضای مشرانو جرگه که خود را به شـورای ولايتی و يا شورای ولسوالی کانديد می نماينـد، از ايـن حکـم مسـتثنی می باشند.

(۵) هرگـاه يکـی از اعضـای انتصابی مشرانوجرگه بخواهد خود را به کرسی انتخابی کانديد نمايد، مکلف است از کرسـی موجـود اسـتعفاء دهد.

(٦) هيچ شخص نمی تواند درعين زمان در بيش از يک حوزۀ انتخاباتی يا برای بيش از يک کرسی انتخابی خـود را کانديد نمايد.

## شپږم فصل

## د جمهوري رياست ټاکنې

### د جمهور رئيس غوره کول

**پنځه څلوېښتمه ماده:**

(۱) جمهور رئيس د آزادې، عمومي، سري او مستقيمې رأيې اخيستنې له لارې د رأيې ورکوونکو له پنځوس سلنې څخه د زياتو رأيو په ترلاسه کولو سره غوره کېږي.

(۲) که چېرې په لومړۍ دوره کې له نوماندانو څخه هېڅ يو ونکړای شي له پنځوس سلنې څخه د رأيو زيات اکثريت لاسته راوړي، د دوه يم دور لپاره ټاکنې د ټاکنو د پايلو د اعلام له نېټې څخه د دوو اونيو په ترڅ کې، دايرېږي او پدې دورکې يوازې دوه تنه له هغو نوماندانو څخه چې په لومړي دورکې يې زياتې رايې لاسته راوړي دي، ګډون کوي.

(۳) له هغو دوو نوماندو څخه چې په لومړي دورکې يې زياتې رأيې لاسته راوړي دي، د رأيو د تساوۍ په

## فصل ششم

## انتخابات رياست جمهوری

### انتخاب رئيس جمهور

**مادۀ چهل و پنجم:**

(۱) رئيس جمهور با کسب بيش از پنجاه فيصد آرای رأی دهندگان از طريق رأی گيری آزاد، عمومی، سری و مستقيم انتخاب می گردد.

(۲) هرگاه در دور اول هيچ يک از کانديدان نتواند اکثريت بيش از پنجاه فيصد آراء را بدست آورد، انتخابات برای دور دوم در ظرف دو هفته از تاريخ اعلام نتايج نهائی انتخابات، برگزار می گردد و در اين دور تنها دو تن از کانديدانی که بيشترين آراء را در دور اول بدست آورده اند، شرکت می نمايند.

(۳) در صورت تساوی آراء ميان بيش از دو کانديدی که بيشترين آراء را در دور اول بدست آورده اند، دو تن

صورت کې دوه تنه چې د لوړو معيارونو لرونکي وي، د دوه يم دور د نوماندانو په توگه ټاکل کېږي، لوړ معيارونه بالترتيب عبارت دي له:

۱- د زده کړې (تحصيل) درجه.

۲- علمي درجه.

۳- په دولتي يا نا دولتي ادارو کې کاري تجربه.

۴- د نښان، مډال او ياړمن (افتخاري) لقب لرل.

(۴) د ټاکنو په دوه يم پړاو کې، هغه نوماند چې د رأيو اکثريت لاسته راوړي، جمهور رئيس پېژندل کېږي.

په دوه يم پړاوکې د نوماندانو ترمنځ د رأيو د تساوی په صورت کې، گټونکی نوماند د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوو تر ټولو لوړو معيارونو پر بنسټ د جمهور رئيس په توگه اعلانېږي.

(۵) که له نوماندانو څخه يو د ټاکنو په دوه يم پړاوکې گډون ونکړي، بل نوماند گټونکی پېژندل کېږي.

کاندیدانی که عالیترین معیار ها را دارا باشند، به حیث کاندیدان دور دوم تعیین می گردند. عالی ترین معیارها بالترتیب عبارت اند از:

۱- درجهٔ تحصیل.

۲- درجهٔ علمی.

۳- تجربهٔ کاری در ادارات دولتی یا غیر دولتی.

۴- داشتن نشان، مدال و لقب افتخاری.

(۴) در دور دوم انتخابات، کاندیدی که اکثریت آراء را کسب کند، رئیس جمهور شناخته می شود. درصورت تساوی آراء میان کاندیدان در دور دوم، کاندید برنده بر اساس عالیترین معیارهای مندرج فقرهٔ (۳) این ماده به حیث رئیس جمهور اعلام می گردد.

(۵) هر گاه یکی از کاندیدان در دور دوم انتخابات شرکت ننماید، کاندید دیگر برنده شناخته می شود.

## د جمهوري رياست د نوماند وفات

شپږ څلوېښتمه ماده:

که چېرې د جمهوري رياست يو له نوماندانو څخه د رأيې اخيستنې د بهير په لومړي يا دوه يم دورکې او يا له ټاکنو وروسته او د ټاکنو د پايلو له اعلام د مخه وفات شي، بيا ټاکنې ددې قانون له حکمونو سره سم، داير پرې.

## جمهور رئيس په توګه د وړونکي نوماند د کارپيل

اووه څلوېښتمه ماده:

وړونکی نوماند د نهايي پايلو له اعلام دېرش ورځې وروسته، د جمهور رئيس په توګه په کار پيل کوي.

### اووم فصل

### د ولسي جرګې ټاکنې

## د ولسي جرګې د غړو شمېر

اته څلوېښتمه ماده:

ولسي جرګه د ۲۵۰ څوکيو لرونکې ده چې ۲۳۹ څوکۍ يې د نفوسو

## وفات کانديد رياست جمهورى

مادۀ چهل و ششم:

هرگاه يکی از کانديدان رياست جمهوری در جريان دور اول يا دوم رأی گيری و يا بعد از انتخابات و قبل از اعلام نتايج انتخابات وفات نمايد، انتخابات مجدد مطابق احکام اين قانون برگزار می گردد.

## آغاز کار کانديد برنده به حيث رئيس جمهور

مادۀ چهل و هفتم:

کانديد برنده، سی روز بعد از اعلام نتايج نهايی به حيث رئيس جمهور به کار آغاز می نمايد.

### فصل هفتم

### انتخابات اعضای ولسی جرگه

## تعداد اعضای ولسی جرگه

مادۀ چهل و هشتم:

ولسی جرگه دارای ۲۵۰کرسی می باشد که ۲۳۹ کرسی آن با

تناسب ته په پام سره ولایتونو ته ۱۰ څوکۍ يې کوچیانو ته او ۱ څوکۍ اهل هنود او سکهـ ته اختصاصېږي.

**ولایتونو ته د څوکیو اختصاص**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

(۱) کمېسیون ۲۳۹ څوکۍ ولایتونو ته په لاندې ترتیب سره اختصاصوي:

۱- د کوچیانو، اهل هنود او سکهـ د نفوسو په استثني دولایتونو د نفوسو مجموعه پر ۲۳۹ څوکیو وېشل کېږي تر څو د يوې څوکۍ لپاره د نفوسو ونډه و ټاکل شي.

۲- د هر ولایت نفوس، د څوکۍ پرونډې وېشل کېږي تر څو دهر ولایت د څوکیو شمېر وټاکل (معین) شي.

۳- د هر ولایت لپاره د څوکیو شمېر ددې فقرې په (۲) جزء کې درج له سرته رسېدنې وېش (تقسیم) څخه له لاسته راغلي تام عدد سره مساوي اختصاص مومي.

نظرداشت تناسب نفوس به ولایات، ۱۰ کرسی آن برای کوچی ها و ۱ کرسی آن برای اهل هنود وسکهـ اختصاص داده می شود.

**اختصاص کرسی ها به ولایات**

**مادۀ چهل و نهم:**

(۱) کمیسیون ۲۳۹ کرسی را برای ولایات به ترتیب ذیل اختصاص می دهد:

۱- مجموع نفوس ولایات به استثنای نفوس کوچی ها، اهل هنود و سکهـ بر۲۳۹ کرسی تقسیم می گردد تا سهمیه نفوس برای یک کرسی معین گردد.

۲- نفوس هر ولایت بر سهمیۀ کرسی تقسیم می گردد تا تعداد کرسی های هر ولایت معین گردد.

۳- برای هر ولایت تعداد کرسی مساوی با عدد تام حاصله از تقسیم انجام شدۀ مندرج جزء (۲) این فقره اختصاص می یابد.

۴- هغه څوکۍ چې ددې فقرې په (۳) جزء کې اختصاص نه مومي، د هغــو اختصاص، ددې فقرې د (۲) جزء لــه سرته رسېدلي وېــش څخـــه د پـــاتې اعشاري عدد د نزولي ترتیب پر بنسټ، صورت مومي.

۵- که چېرې ددې محاسبې په پایلــه کې یوهٔ یا څو ولایتونو ته له یوې څوکۍ څخه کمه ورسېږي، هغه ولایت ته دوه څوکۍ اختصاص ورکول کېږي.

٦- د هغو ولایتونو چې هغو ته اضافي څوکۍ د دې فقرې د (۵) جـــزء پـــر بنسټ اختصاص شوي د څوکیو او د نفوسو د ارقامو مجموع، د ولایتونو د نفوسو له مجموع څخه کسر کېږي، د پاتې ولایتونو لپاره یوه نـــوې ونـــډه (سمهیه)، د محاسبه شـــوې څـــوکۍ اختصاص او دغه ولایت ته د څـــوکۍ تخصیص په هغه ډول چې ددې فقرې په (۲ او ۵) اجزاووکې یاد شـــوي دي، تکرارېږي.

(۲) کمېسیون مکلف دی، پدې ماده کې د درج شوو څوکیو په تخصـــیص

۴- کرسی هایی که در جزء (۳) این فقره اختصاص نمی یابند، اختصـــاص شان به اساس ترتیب نزولـــی عـــدد اعشاری باقیمانده از تقسیم انجام شدهٔ جـــزء (۲) ایـــن فقـــره صـــورت می گیرد.

۵- هرگاه در نتیجه این محاسبه بـــه یک یا چند ولایت کمتـــر از یـــک کرسی برسد، به آن ولایت دو کرسی اختصاص داده می شود.

٦- مجموع کرسی و ارقام نفـــوس ولایاتی که برای آنها کرســـی هـــای اضافی به اساس جزء (۵) این فقـــره اختصاص یافته، از مجمـــوع نفـــوس ولایات کسر مـــی گـــردد. بـــرای باقیماندهٔ ولایات یک سهمیهٔ جدیـــد، اختصاص کرسی محاســـبه شـــده و تخصیص کرسی برای این ولایات به نحوی که در اجزای (۲ و ۵) ایـــن فقره تـــذکر رفتـــه اســـت، تکـــرار می شود.

(۲) کمیسیون مکلف است، محاسبات مورد استفاده در تخصیص کرسی های

کې د ګټې اخيستنې ور محاسـبات، خپاره کړي.

## نوماندانو ته د څوکيو سپارل

**پنځوسمه ماده:**

په هره ټاکنيزه حوزه کې څوکۍ، هغو نوماندانو ته سپارل کېږي چې قـانوني زيـاتې رأيــې يــې لاســته راوړې دي.

(۲) د وروستۍ څوکۍ د ترلاسته کولو لپاره د دوو نوماندانو تر منځ درأيو د تساوۍ په صورت کې وړونکی شخص، لوړو معيارونو ته په پام سـره ټاکـل کېږي.لوړ معيارونه بالترتيب عبارت دي له:

۱- د زده کړو (تحصيل) درجه.

۲- په دولتي يا نا دولتــي اداروکــې کاري تجربه.

(۳) که چېرې د ولسي جرګې غــوره شوی غړی ونکړای شي خپله څــوکۍ ونيسي يا د ځينو دلايلو پربناء خپلــه څوکۍ د ولسي جرګې د کار په دوره کې ترک کړي، وفات شي يا استعفي

منــدرج ايــن مــاده را نشــر نمايد.

## تفويض کرسی ها به کانديدان

**مادۀ پنجاهم:**

(۱) درهر حوزۀ انتخاباتی کرسی ها به کانديد انی تفويض می گــردد کــه بيشترين آرای قانونی را کسب نموده اند.

(۲) در صورت تساوی آراء ميان دو کانديد برای احراز کــرســی اخيــر، شخص بــرنده بانظرداشت عــاليترين معيار ها تعيين می گردد. عــالی ترين معيارهــــا بالترتيــــب عبــــارت اند از:

۱- درجۀ تحصيل.

۲- تجربۀ کاری در ادارات دولتی يا غير دولتی.

(۳) هرگاه عضو منتخب ولسی جرگه نتواند کرسی خود را احــراز نمايــد يا بنا بر دلايلی کرســی خــود را در دورۀ کار ولسی جرگه ترک، وفات يا اســــتعفاء نمــوده يـــا مطـــابق

ورکړي يا د قانون له حکمونو سره سم، په بله دنده مقرر يا د قانون په حکم خپل غړيتوب له لاسه ورکړي او يا پداسې ډول معلول يا معيوب شي چې په دايمي توګه د دندې د اجراء څخه (مانع) شي، په هغه صورت کې چې د ولسي جرګې د کار د پايته رسېدو مودې ته له يوه کال څخه زيات پاتې وي، د هغه څوکۍ د کمېسيون له مرتبه فهرست سره سم، د ذکور يا اناث له عين جنس څخه د زياتو رأيو په لرونکي وروستي نوماند پورې اړه مومي.

## ښځو نوماندانو ته د څوکۍ اختصاص

### يو پنځوسمه ماده:

(۱) کمېسيون د ښځو د لږ تر لږه نوماندانو د ټاکنو لپاره چې په هر ولايت کې بايد غوره شي، کړنلارې او يو فورمول ترتيبوي چې د هر ولايت پر نفوسو مبتني وي چې د افغانستان د اساسي قانون د دري اتيايمې مادې مقتضيات چې د ښځو د غوره شوو

احکام قانون به وظيفهٔ ديگر مقرر يا به حکم قانون عضويت خويش را از دست بدهد و يا طوری معلول يا معيوب گردد که به طور دايم مانع اجرای وظيفه شود، در صورتی که بيشتر از يک سال به ميعاد ختم کار ولسی جرگه باقی مانده باشد، کرسی وی مطابق فهرست مرتبه کميسيون به کانديد بعدی دارای بيشترين آراء از عين جنس ذکور يا اناث تعلق می گيرد.

## اختصاص کرسی به کانديدان زن

### مادهٔ پنجاه ويکم:

(۱) کميسيون برای تعيين حداقل کانديدان زن که در هر ولايت بايد انتخاب شوند، طرزالعمل ها و فورمولی را ترتيب می نمايد که مبتنی بر نفوس هر ولايت باشد تا مقتضيات مادهٔ هشتاد و سوم قانون اساسی افغانستان که بايد تعداد کانديدان

نوماندانو شمېر باید لږ تر لږه د موجوده ولایتو د شمېر دوه چنده وي، تـــأمین شي.

(۲) هغه نوماندان چې په هره ټـــاکنیزه حوزه کې زیاتې قانونې رأیـــې لاســـته راوړي، ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي فورمول سره سم، هغو تـــه ځـــوکۍ اختصـــاص مومي.دونـــډې (سهمیې) د شرایطو په تحقق سره، پاتې ځوکۍ، ددې قانون له نهه څلوېښتمې مادې سره سم، اختصـــاص ورکـــول کېږي.

(۳) که چېرې د نوماندانو په فهرست کې، د ښځو کافي شمېر شتون و نلري چې ښځو ته اختصاص شوې ځوکۍ یا ځوکۍ ګانې په یوه ټاکلې ټاکنیزه حوزه کې ونیسي (تر لاسه کړي) کمېسیون ددې مادې په (۱) فقره کې لـــه درج شوې کړنلارې سره سم، داسې تدبیرونه نیسي چې ترڅو ښځو تـــه اختصـــاص شوې ځوکۍ ګانې، تشې پاتې نشي.

منتخب زن حداقل دو چنـــد تعـــداد ولایـــات موجـــوده باشـــد، تـــأمین گردد.

(۲) کاندیدانی کـــه در هـــر حـــوزۀ انتخاباتی بیشـــترین آرای قـــانونی را کسب نمایند، حسب فورمول مندرج فقرۀ (۱) این ماده، برای شان کرسی اختصـــاص مـــی یابـــد. بـــا تحقـــق شرایط سهمیه، کرسی های باقیمانده مطـــابق مـــادۀ چهـــل ونهـــم ایـــن قـــــــانون اختصـــــــاص داده می شود.

(۳ هرگاه در فهرست کاندیدان، تعداد کافی زن وجود نداشته باشد که کرسی یا کرسی های اختصاص یافته به زنان را در یک حوزۀ معین انتخاباتی احـــراز نماید، کمیسیون مطـــابق طرزالعمـــل مندرج فقرۀ (۱) این ماده تدابیری را اتخاذ می نماید تـــا کرســـی هـــا ی اختصاص یافته به زنان، خـــالی بـــاقی نماند.

## کوچیانو ته د څوکۍ ځانګړي کول

**دوه پنځوسمه ماده:**

(۱) د کوچي څوکۍ هغو نوماندانو ته تفويضېږي چې د کوچي پـه ټـاکنيزه حوزه کې يې تر ټولو ډېرې قانوني رأيې ترلاسه کړې وي.

(۲) د کوچي درې څوکۍ هغو ښځينه نوماندانو ته چې د کوچي په ټـاکنيزه حوزه کې يې تر ټولو ډېرې قانوني رأيې ترلاسه کړې وي تفويضېږي.

(۳) د وروستۍ څوکۍ لپاره د نوماندانو تر منځ د رأيو د تساوي په صورت کې، هغه نوماند ګټونکی اعلانېږي چـې د تحصيل تر ټولو لوړه درجه ولري او د تحصيل د درجې د تساوۍ په صورت کې، په اداره کې تر ټولو د ډېرې کاري تجربې لرونکی وي.

(۴) که چېرې د ولسي جرګې د کوچي ټاکل شوی غړی ونکړای شي خپلـه څوکۍ احراز کړي يا په ځينو دليلونو خپله څوکۍ د ولسي جرګې د کار په دوره کې ترک، وفات يا استعفي وکړي

## اختصاص کرسی به کوچی ها

**مادۀ پنجاه و دوم:**

(۱) کرسی های کوچی به کاندیدانی تفویض می گردد که درحوزۀ انتخاباتی کوچی بیشترین آرای قانونی را کسب نموده باشند.

(۲) سه کرسی کوچی به کاندیدان زن که در حوزه انتخاباتی کوچی بیشترین آرای قانونی را کسب نموده باشـند، تفویض می گردد.

(۳) در صورت تساوی آراء میـان کاندیدان برای کرسی اخیر، کاندیدی برنده اعلام مـی شـود کـه دارای بلنـد تـرین درجـۀ تحصـیل و در صورت تساوی درجۀ تحصیل، دارای بیشـترین تجربـۀ کـاری در اداره باشد.

(۴) هرگاه عضو منتخب کوچی ولسی جرگه نتواند، کرسی خود را احـراز نماید یا به دلایلی کرسی خـود را در دورۀ کـار ولسـی جرگـه تـرک، وفات یا استعفاء نموده یا مطابق احکام

یا د قانون د حکمونو مطابق بلې دندې ته مقرر یا د واکمنې محکمې په حکم خپل غړیتوب له لاسه ورکړي یا په داسې ډول معلول یا معیوب شي چې د تل لپاره د دندې د اجراء خنډ شي، په هغه صورت کې چې د ولسي جرګې د کار د پای مودې ته له یوه کال څخه زیات پاتې وي، د هغه څوکۍ د کمېسیون له خوا د ترتیب شوي نوم لړ مطابق د نارینه یا ښځینه له عین جنس څخه د تر ټولو ډېرو رأیو لرونکي ورپسې (بعدي) نوماند پورې اړه پیدا کوي.

## د هنودو او سکهـ اهل ته د څوکۍ ځانګړې کول

### درې پنځوسمه ماده:

(۱)د هنودو او سکهـ اهل څوکۍ هغه نوماند ته چې تر ټولو ډېرې رأیې یې ترلاسه کړې، اختصاصېږي.

(۲) د نوماندانو تر منځ د رأیو د تساوۍ په صورت کې، هغه نوماند بریالی اعلانېږي چې د تحصیل تر ټولو

قانون به وظیفه دیگر مقرر یا به حکم محکمهٔ ذیصلاح عضویت خویش را از دست بدهد و یا طوری معلول یا معیوب شود که بطور دایم مانع اجرای وظیفه گردد، در صورتی که بیشتر از یکسال به میعاد ختم کار ولسی جرگه باقی مانده باشد، کرسی وی مطابق فهرست مرتبهٔ کمیسیون به کاندید بعدی دارای بیشترین آراء از عین جنس ذکور یا اناث تعلق می گیرد.

## اختصاص کرسی به اهل هنود و سکهـ

### مادهٔ پنجاه و سوم:

(۱) کرسی اهل هنود و سکهـ برای کاندیدی که بیشترین آراء را کسب نموده، اختصاص می یابد.

(۲) در صورت تساوی آراء میان کاندیدان، کاندیدی برنده اعلام می شود که دارای بلندترین

لوړه درجه ولري او د تحصیل د درجې د تساوۍ په صورت کې، په اداره کې د تر ټولو ډېرې کاري تجربې لرونکی وي.

(۳) که چېرې د هنودو او سکهـ اهل ټاکل شوی غړی ونکړای شي خپله څوکۍ احراز کړي یا په ځینو دلیلونو خپله څوکۍ د ولسي جرگې د کار په دوره کې ترک، وفات یا استعفي وکړي یا د قانون د حکمونو مطابق بلې دندې ته مقرر یا د واکمنې محکمې په حکم خپل غړیتوب له لاسه ورکړي یا په داسې ډول معلول یا معیوب شي چې د تل لپاره د دندې د اجراء خنډ شي، په هغه صورت کې چې د ولسي جرگې د کار د پای مودې ته له یوه کال څخه زیات پاتې وي، د هغه څوکۍ د کمېسیون له خوا د ترتیب شوي نوم لړ مطابق د هنودو او سکهـ اهل د نوماندانو له نوم لړ څخه د تر ټولو ډېرو رأیو لرونکي ورروستي نوماند پورې اړه پیدا کوي.

درجه تحصیل و در صورت تساوی درجه تحصیل، دارای بیشترین تجربۀ کاری در اداره باشد.

(۳) هرگاه عضو منتخب اهل هنود و سکهـ نتواند کرسی خود را احراز نماید و یا بنا بر دلایلی کرسی خود را در دورۀ کار ولسی جرگه ترک، وفات یا استعفا نماید یا مطابق احکام قانون به وظیفه دیگر مقرر یا به حکم محکمۀ ذیصلاح عضویت خویش را از دست بدهد یا طوری معلول یا معیوب شود که بطور دایم مانع اجرای وظیفه گردد، درصورتی که بیشتر از یک سال به میعاد ختم کار ولسی جرگه باقی مانده باشد، کرسی وی مطابق فهرست مرتبۀ کمیسیون به کاندید بعدی دارای بیشترین آراء از فهرست کاندیدان اهل هنود و سکهـ تعلق می گیرد.

## اتم فصل

## د مشرانو جرگې د غړو ټاکنې

### د مشرانو جرگې د غړو شمېر

**څلور پنځوسمه ماده:**

د مشرانو جرگې د غړو شمېر د هېواد د ولايتونو د شمېر درې چنده دی چې د افغانستان د اساسي قانون د څلور اتيايمې مادې د حکم سره سم، غوره او ټاکل کېږي.

### د مشرانو جرگې غړيتوب ته د ولايتي شورې د غړي ټاکل کېدل

**پنځه پنځوسمه ماده:**

(۱) کمېسيون د ولايتي شورې گانو له رامنځته کېدو وروسته، د مشرانو جرگې د غړي د ټاکنې په منظور د پنځلسو ورځو مودې په ترڅ کې، د هر ولايت د ولايتي شورې داخلي ټاکنې، د دې قانون د حکمونو او د کمېسيون د کړنلارې مطابق تر سره کوي.

(۲) د دغو ټاکنو د تر سره کولو لپاره د ولايتي شورې د غونډې نصاب لږ تر لږه د ولايتي شورې د ټولو غړو د دوه

## فصل هشتم

## انتخابات اعضای مشرانو جرگه

### تعداد اعضای مشرانو جرگه

**مادۀ پنجاه و چهارم:**

تعداد اعضای مشرانو جرگه، سه چند تعداد ولايات کشور می باشد، که مطابق حکم مادۀ هشتاد و چهارم قانون اساسی افغانستان، انتخاب و تعيين می گردند.

### انتخاب عضو شورای ولايتی به عضويت مشرانو جرگه

**مادۀ پنجاه و پنجم:**

(۱) کميسيون در خلال مدت پانزده روز بعد از ايجاد شوراهای ولايتی به منظور انتخاب عضو مشرانو جرگه، انتخابات داخلی شورای ولايتی هر ولايت را مطابق احکام اين قانون و طرز العمل کميسيون تدوير می نمايد.

(۲) نصاب جلسۀ شورای ولايتی برای تدوير اين انتخابات حضور حداقل دو ثلث کل اعضای شورای ولايتی

ثلثو حضور دی، هغه نوماند چې د حاضرو غړو له نيمايي څخه ډېرې رأيې لاس ته راوړي، د مشرانو جرگې د غړي په توگه پېژندل کېږي.

که چېرې په لومړي پړاو کې هيڅ نوماند له نيمايي څخه ډېرې رأيې لاس ته را نه وړي، نوې ټاکنې د هغو دوو نوماندانو تر منځ، چې تر ټولو ډېرې رأيې يې لاس ته راوړې وي، صورت مومي. په دوه يم پړاو کې هغه نوماند، چې تر ټولو ډېرې رأيې لاس ته راوړي، گټونکی گڼل کېږي.

(۳) له دوو څخه د ډېرو نوماندانو تر منځ د رأيو د تساوۍ په صورت کې، چې په لومړي پړاو کې يې تر ټولو ډېرې رأيې ترلاسه کړې دي، دوه تنه هغه نوماندان چې په ترتيب سره د تحصيل تر ټولو لوړه درجه ولري او د تحصيل د درجې دتساوۍ په صورت کې هغه دوه نوماندان چې تر ټولو د ډېرې کاري تجربې لرونکي وي، د دوه يم پړاو د نوماندانو په توگه پېژندل کېږي.

(۴) د ټاکنو په دوه يم پړاو کې د

می باشد، کاندیدی که بیش از نصف آرای اعضای حاضر را کسب نماید، به حیث عضو مشرانو جرگه شناخته می شود.

هرگاه در دور اول هیچ کاندیدی بیش از نصف آرای اعضای حاضر را بدست آورده نتواند، انتخابات مجدد بین دو کاندیدی که بیشترین آراء را کسب نموده باشند، صورت می گیرد. در دور دوم کاندیدی که بیشترین آراء را بدست آورد، برنده شناخته می شود.

(۳) در صورت تساوی آراء میان بیش از دو کاندیدی که بیشترین آراء را در دور اول بدست آورده اند، دو تن کاندیدانی که بالترتیب دارای بالاترین درجۀ تحصیل باشند و در صورت تساوی درجۀ تحصیل دوتن کاندیدانی که دارای بیشترین تجربۀ کاری باشند، به حیث کاندیدان دور دوم شناخته می شوند.

(۴) در صورت تساوی آراء میان دو

دوو نوماندانو د رأیو د تساوۍ په صورت کې، د دوو تنو له منځ څخه هغه شخص ګټونکی ګڼل کېږي چې په ترتیب سره د تحصیل د لوړې درجې لرونکی وي او د تحصیل د درجې د تساوۍ په صورت کې هغه شخص، چې تر ټولو ډېرې کاري تجربې لرونکی وي ګټونکی پېژندل کېږي.

(۵) که چېرې ټاکل شوی غړی ونه کړای شي خپله څوکۍ احراز کړي یا د ځینو دلایلو له مخې د مشرانو جرګې د کار په دوره کې خپله څوکۍ ترک، وفات یا استعفي وکړي یا د قانون د حکمونومطابق په بله دنده مقرر یا د قانون په حکم خپل غړیتوب له لاسه ورکړي او یا په داسې ډول معلول یا معیوب شي چې د تل لپاره یې د دندې د اجراء خنډ وګرځي، په هغه صورت کې چې د اړوندې شورې( ولایتي شوري) د کار د پای مودې ته له یوه کال څخه زیات پاتې وي، کمېسیون ددې مادې د حکمونو مطابق د پاتې مودې لپاره د مشرانو جرګې د غړي د

کاندید در دور دوم انتخابات، شخصی از میان این دو تن برنده شناخته می شود که بالترتیب دارای بالاترین درجۀ تحصیل باشد و در صورت تساوی درجۀ تحصیل کاندیدی که دارای بیشترین تجربۀ کاری باشد، برنده شناخته می شود.

(۵) هرگاه عضو منتخب نتواند کرسی خود را احراز، یا بنا بر دلایلی کرسی خود را در دورۀ کار مشرانو جرگه ترک، وفات یا استعفاء نموده یا مطابق احکام قانون به وظیفۀ دیگر مقرر یا به حکم قانون عضویت خویش را از دست بدهد و یا طوری معلول یا معیوب شود که بطور دایم مانع اجرای وظیفه گردد، در صورتی که بیشتر از یک سال به میعاد ختم کار شورای مربوط (شورای ولایتی) باقی مانده باشد، کمیسیون مطابق احکام این ماده، انتخابات میان اعضای شورای ولایتی را جهت انتخاب عضو مشرانو جرگه برای

ټاکنې لپاره د ولایتي شورۍ د غړو تر منځ ټاکنې سرته رسوي.

**دمشرانوجرګې غړیتوب ته د ولسوالیو د شورۍ ګانو دغړي ټاکل**

**شپږپنځوسمه ماده:**

